قرآني بيان

# خپله اِصلاح

## ولې ضروري ده؟

(For Islamic Brothers)

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه إمامِ مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

په 8 مئي، کال 2026ء (متوقع : 20 ذُو القعده شريف، کال 1447ھ)
د جُمعةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 8 مئي، کال 2026ء (متوقع : 20 ذُو القعده شريف، کال 1447ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# خپله اِصلاح ولې ضروري ده؟

پهٔ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ...کاميابي صرف د خپلې اِصلاح سره ميلاؤيږي
- ...جَنَّت پکار دے که دوزخ؟
- ...د خپلې جائزې يوه بهترينه طريقه
- ...پير جوړول مهٔ هيروئ

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ؕ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم:

مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً وَّاحِدَةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ، وَحُطَّتْ عَنْهُ عَشْرُ خَطِيْئَاتٍ، وَرُفِعَتْ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې پۀ ما باندې يو ځل دُرُودِ پاک ولوستو، الله پاک پۀ هغۀ باندې 10 رحمتونه نازلوي، 10 ګناهونه يې ورانولے شي او 10 درجې يې اوچتولے شي۔ (1)

حُکم حق ہے پڑھو درود شریف    چھوڑو مت غافلو درود شریف
پڑھ کے ایک بار پاؤ دس رحمتیں    خوب سودا ہے لو درود شریف
جا کے وہاں پیش ہوگا نام بنام    جس قدر جس کا ہو درود شریف (2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!    صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ... نسائی، کتاب السهو، باب الفضل فی الصلاة علی النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:222، حدیث:1294۔

2 ... نورِ ایمان، صفحه:39 ملتقطًا۔

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَکَ وَ تَعَالٰی فِی الْقُرْاٰنِ الْکَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَ تَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَ اَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ﴿۴۴﴾

(پاره: 1، سورة البقرة: 44)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صلّی اللہ عَلَیْہِ وَ آلِہٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: آيا تاسو خلقو ته د نيکۍ حُکم کوئ او خپل ځانونه هيروی حالانکې تاسو کتاب هم لولی نو آيا تاسو عقل نۀ لرئ۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د آيت مبارک شانِ نزول

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ د وړومبۍ سيپارې د سورۀ بقره د آيت: 44 د اوريدو سعادت حاصل کړو، د دې آيت مبارک د شانِ نُزول په باره کښې يو روايت خو دا دے چې يو ځل د يهوديانو عالمانو نه د هغوي مسلمانانو خپلوانو پوښتنه اوکړه چې آيا اِسلام رښتونے دِين دے؟ هغوئي جواب ورکړو: آؤ! اِسلام رښتونے دِين دے، تاسو په دې باندې قائم اوسئ۔ **يو روايت دا مشهور دے** چې د عربو بني اِسرائيلو به د سرورِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشريف راوړلو نه مخکښې عربو والؤ ته د هغوئي د راتللو خبرونه ورکول او هغوئي ته به يې هدايت کولو چې کله نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړي نو په هغوئي پسې دې روان شي۔ بيا چې کله حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو نو هُم

پخپله دې عالمانو د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اِنکار اوکړو۔ [1]

پۀ تفسیر روحُ البیان کښې پۀ یو روایت کښې دي چې هُغه غریبانان خلق د کومو نه چې د بني اِسرائیلو د عالمانو څۀ دُنیائي لالچ نۀ وو، نۀ هغوئي، هغوئي له څۀ ورکولے شو، دې خرابو لالچي عالمانو به دغه غریبانانو ته پۀ پټه وئیل چې اِسلام رښتونے دِین دے، مُحَمَّد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) رښتونے نبي دے، تاسو د دوئي کلمه ولولئ! خو کوم چې مالداره خلق وو، د کومو نه چې به دې خرابو عالمانو ته نذرانې میلاؤیدلې، هغوئي به چې کله د دوئي نه د اِسلام پۀ باره کښې پوښتنه کوله نو دوئي به د هغوئي پۀ مخکښې دروغ وئیل او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رښتوني نبي کیدو نه به یې اِنکار کولو۔ دوئي ګڼله چې که دا مالداره خلق د لاس نه ووتل نو زمونږ امدن به بند شي۔ د دوئي د دې رویې پۀ باره کښې دا آیت مبارک نازل شو، [2] الله پاک اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَتَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَ تَنْسَوْنَ اَنْفُسَكُمْ وَ اَنْتُمْ تَتْلُوْنَ الْكِتٰبَؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ﴿۴۴﴾ (پارہ:1، سورۂ البقرۃ:44) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: آیا تاسو خلقو ته د نیکۍ حُکم کوئ او خپل ځانونه هیروی حالانکې تاسو کتاب هم لولی نو آیا تاسو عقل نۀ لرئ۔ |

یعنې اے د بني اِسرائیلو عالمانو--!! تاسو تورات لولئ، تاسو ته حق او رښتیا معلوم دي، پۀ تاسو کښې پۀ حق او پۀ باطِل کښې د فرق کولو صلاحیت موجود دے، تاسو ته

---

1…تفسیرِ خازن، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:44، جلد:1، صفحه:41۔

2…تفسیرِ روح البیان، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:44، جلد:1، صفحه:125۔

معلومه ده چې څوک نور پوهه کوي، نورو ته د نيکۍ حُکم کوي خو پخپله پرې عمل نۀ کوي نو د قيامت پۀ ورځ به هغه د سخت عذاب حقدار وي، د دې باوجود تاسو نورو ته خو د نيکۍ حُکم کوئ، نورو ته خو د اِسلام رښتنولي بيانوئ او پخپله خپل ځان هيروئ---!! آيا پۀ تاسو کښې عقل نشته---؟ تاسو دومره لويه بيوقوفي څنګه کولے شئ---؟ **(1)**

## پۀ آيت مبارک کښې د زدکړې سبق

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د دې آيت مبارک نه دا سبق ميلاؤ شو چې د قول او فعل تضاد يعنې وئيل يو څۀ او کول بَل څۀ، نور خلق پوهه کول خو پخپله پرې عمل نۀ کول، دا ډيره لويه بيوقوفي ده، عقلمند له پکار دي چې الله پاک کوم حق پۀ هغۀ باندې واضحه کړے دے، د ټولو نه وړومبے پۀ هغې باندې پخپله عمل اوکړي او ورسره ورسره نورو له هم د دې ترغيب ورکړي۔

## د بے عملۍ نقصان

د حضرت عَدِي بن حاتِم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، حُضُورِ اَقدَس صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د قيامت پۀ ورځ به د څينو خلقو د جَنَّت طرف ته د بوتللو حُکم وشي، د دې پورې چې کله هغوئي جَنَّت ته نزدې ور ورسيږي او د هغې خوشبو بوئي کړي، د هغې محلونه او پۀ هغې کښې د جَنَّتيانو د پاره تيار کړے شوي نعمتونه ووينې نو اواز به اوکړے شي: دوئي د جَنَّت نه واپس کړئ ځکه چې د دوئي پۀ جَنَّت کښې هيڅ حصه نشته۔ (د دې

[1]...تفسيرِ نعيمی، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زير آيت:44، جلد:1، صفحه:346 خلاصةً۔

اِعلان پهٔ اوریدو به) هغوئي پهٔ داسې ارمان سره را واپس شي چې د هغې پهٔ شان د ارمان سره به څوک هم مخکښې واپس شوي نهٔ وي، بیا به هغوئي عرض کوي: یا ربه! که تا د خپل ثواب او د خپلو اولیاؤ د پاره د تیار کړے شوو نعمتونو ښودلو نه مخکښې مونږ دوزخ ته داخِل کړي وے نو دا به پهٔ مونږ ډیره اسانه وه- الله پاک به اِرشاد فرمائي: ما اِرادةً ستاسو سره داسې وکړهٔ (او د دې وجه دا ده چې) ◈ کله به تاسو پهٔ تنهایۍ کښې وئ نو لوئي لوئي ګناهونه به مو کول او زما سره به مو د جنګ اِعلان کولو او کله به چې د خلقو سره میلاؤیدئ نو د عاجزۍ او اِنکسارۍ سره به میلاؤیدئ، تاسو به خلقو ته خپل هٔغه حالت ښودلو کوم چې به ستاسو پهٔ زړونو کښې زما د پاره نهٔ وو ◈ تاسو به د خلقو نه ویریدئ او زما نه به نهٔ ویریدئ ◈ تاسو به د خلقو عزت کولو او زما عزت به مو نهٔ کولو ◈ تاسو به د خلقو پهٔ وجه باندې غلط کارونه پریښودل خو زما پهٔ وجه به مو ګناهونه نهٔ پریښودل، **نن به زهٔ د خپل ثواب نه د محرومه کولو سره سره پهٔ تاسو د خپل عذاب مزه هم څکم- (1)**

حضرت اِبراهیم تَیمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: زهٔ به د مرګ یادولو د پاره ډیر زیات هدیرې ته تلم، یوه ورځ زهٔ پهٔ هدیره کښې ووم چې خوب پهٔ ما باندې غالِب شو او زهٔ اودهٔ شوم نو ما پهٔ خوب کښې یو کولاو شوے قبر ولیدو او د یو ګس نه مې دا واوریدل: دا زنځیر اونیسه او د دهٔ خُلې ته یې وردننه کړه او د دهٔ پهٔ مخصوص ځائے یې رابهر کړه- نو هٔغه مړي ووئیل: یا رَبِّ کریمه! ◈ آیا ما قرآن نهٔ لوستلو؟ ◈ آیا ما ستا د حُرمت والا کور حج نهٔ

---

[1]... معجم اوسط، من اسمه محمد، جلد:4، صفحه:135، حدیث:5478۔

کولو؟ بیا هغه هم داسې په یوې پسې بَله نیکۍ یادوله نو هغه ته ووئیلے شو: تا به د خلقو په مخکښې دا اعمال کول خو چې کله به ته یواځې شوې نو د نافرمانو په ذریعه به دې زما سره مقابله کوله او تا به زما هیڅ خیال نهٔ ساتلو۔ (1)

## کامیابي صرف د خپلې اِصلاح سره میلاؤیږي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! یاد ساتئ چې کامیابي صرف د خپلې اِصلاح سره میلاؤیږي، په دې دُنیا کښې ځوک هم د نورو په اوګو باندې په ودریدو سره لوړ مقام ته نشي رسیدے،لوړ مقام ته رسیدل هم په خپلو ښپو باندې د ودریدو سره کیدے شي، چا عقلمند ډیره ښکلې خبره کړې ده چې په دې دُنیا کښې صرف یو اِنسان دے کوم چې تا کامیابولے شي او هُغه یو اِنسان هم ته پخپله یې۔

په 30 سیپاره، سُورَةُ الشَّمس، آیت: 9 او 10 کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ﴿۹﴾ وَ قَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰىهَا ﴿۱۰﴾ (پاره:30، سورۂ الشمس:10/9) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بے شکه چا چې نفس پاک کړلو هغه کامیاب شو۔او بے شکه چا چې نفس په ګناهونو کښې پټ کړو هغه ناکام شو۔ |

یاد ساتئ چې ◈ د نجات دارومدار په شهرت باندې نهٔ دے ◈ د نجات دارومدار په عزت باندې نهٔ دے ◈ د نجات دارومدار په مال او دولت، په عیش او عشرت باندې نهٔ دے

[1]... الزواجر عن اقتراف الکبائر، مقدمة المؤلف، جلد:1، صفحه:30۔

◈ د نجات دارومدار پۀ لوئي منصب باندې نۀ دے ◈ د نجات د پاره عِلم حاصلول کافي نۀ دي - پۀ اخرت کښې د نجات د پاره خپله اِصلاح کول ضروري دي ، ځوک چې پۀ خپله اِصلاح کولو کښې کامياب شي، اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د الله پاک پۀ رحمت او د هغۀ د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ شفاعت سره به هغه د جَنَّت حقدار کيږي خو چا چې پۀ دې دُنيا کښې ځان د هدايت لارې ته را نۀ وستلے شو، هغه به پۀ اخرت کښې هم محرومه او نامُراده پاتې کيږي، الله پاک پۀ قرآنِ مجيد کښې اِرشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ مَنْ كَانَ فِیْ هٰذِهٖۤ اَعْمٰى فَهُوَ فِی الْاٰخِرَةِ اَعْمٰى<br>(پارہ:15، سورۂ بنی اسرائیل:72) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: او څوک چې پۀ دې ژوند کښې ړوند وي هغه به پۀ اخرت کښې هم ړوند وي- |

پۀ تفسير نُورُ العِرفان کښې د دې آيت لاندې ليکلے شوي دي: يعنې پۀ دُنيا کښې چې د چا زړۀ ړوند وو، هدايت يې قبول نۀ کړو، هغه به پۀ اخرت کښې د نجات او د جَنَّت د لارې د ليدلو نه ړوند وي- (1)

غور اوکړئ چې ◈ الله پاک مونږ ته د نمونځ کولو حُکم کړے، کوم کَس چې د نمونځ تلقين خو کوي خو پخپله نمونځ نۀ کوي آيا هغۀ د الله پاک پۀ حُکم باندې عمل اوکړو؟ ◈ الله پاک د روژو نيولو حُکم کړے ◈ الله پاک د دروغو ◈ غيبت ◈ چغلۍ ◈ حَسَد ◈ تکبر ◈ بد گمانۍ ◈ وعده خلافۍ ◈ الزام لګولو ◈ کنځلو نه د بچ

[1]… تفسیر نورالعرفان، پارہ:15، سورۃ بنی اسرائیل، تحت الآیۃ:72، صفحہ:797 خلاصۃً۔

کيدو ◈ د نظر ښکته ساتلو ◈ د مور او پلار د ادب کولو ◈ د خوئيندو وروڼو د حقونو د خيال ساتلو ◈ د ګاوڼديانو سره د ښهٔ سلوک کولو ◈ د خپلوانو سره د ښيګړې کولو ◈ د ظاهري ګناهونو نه د بچ کيدو ◈ د باطِني بيمارو نه د نجات حاصلولو حُکم کړے، که څوک د دې ټولو کارونو نورو ته تلقين خو کوي خو پخپله پهٔ دې باندې عمل نهٔ کوي نو آيا هغه د الله پاک پهٔ حُکمونو باندې عمل اوکړو؟

| | |
|---|---|
| كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَاۤ اَمَرَهٗ ﴿۲۳﴾<br>(پاره:30، سورهٔ عبس:23) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: يقيناً هغهٔ د اوسه پورې پوره نهٔ کړو کوم چې الله هغهٔ ته حُکم کړے وو۔ |

## د خپلې اِصلاح نه غفلت د عذاب يو صورت دے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مونږ ته هر يو ساعت د خپلې اِصلاح ضرورت دے، که څوک ډاکټر وي او که انجنيئر، وکيل وي او که جج، بادشاه وي او که غلام، مالداره وي او که غريب، خان وي او که مزدور، عالِم وي او که جاهل، سائنس دان وي او که دکاندار، که څوک هر څومره مرتبه لري، هر يو ته پهٔ خپله اِصلاح کښې مصروف اوسيدل ضروري دي، د خپلې اِصلاح نه غافله کيدل د الله پاک د عذاب يو صورت دے، پهٔ 28 سيپاره، د سُورَةُ الحَشر، پهٔ آيت 19 کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللّٰهَ فَاَنْسٰهُمْ اَنْفُسَهُمْؕ اُولٰٓىٕكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿۱۹﴾<br>(پاره:28، سورهٔ الحشر:19) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د هغه خلقو پهٔ شان مهٔ کيږئ کومو چې الله هير کړو نو الله د هغوئي نه د هغوئي ځانونه هير کړل، هُم هغه خلق نافرمانه دي۔ |

آه! مونږ د ځان نه په غافله کړے شو په نورو باندې تنقید کوونکي جوړ شو- پته نۀ لګي چې د نورو عیبونه لټول، د نورو په ګریوانونو کښې کتل، د نورو په کردار کښې خامي لټول مونږ د چرته نه زده کړي دي، د اَلحَمدُ د اَلِف نه واخله د وَالنَّاس د سِین پورې ټول قرآنِ کریم ولولئ، الله پاک چرته یو ځل هم د نورو د عیبونو د لټولو ترغیب نۀ دے فرمائیلے بلکې د دې نه یـې منع فرمائیلې ده، دا د اِسلام خاصیت دے چې اِسلام مونږ ته نورو ته د نیکۍ د دعوت ورکولو سره سره د خپلې اِصلاح ذِهن هم راکوي، په 28 سیپاره، د سُورَةُ الحَشر، په آیت: 18 کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَلۡتَنۡظُرۡ نَفۡسٌ مَّا قَدَّمَتۡ لِغَدٍ ۚ<br>(پاره:28، سورۂ الحشر:18) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هر کَس دې وګوري چې هغۀ د سبا د پاره مخکښې څۀ لیږلي دي- |

اَللّٰهُ اَکْبَر! دا ډیر ګران کار دے، د خپلو اعمالو جائزه اخستل، خپلې غلطیانې لرې کول ډیر ګران کار دے- د الله پاک حِکمت دے چې الله پاک سترګې په مخ باندې لګولې دي او دا صرف مخې ته ګوري، په خپل ګریوان کښې د کتو د پاره سر ښکته کول وي، هُم دا سر ښکته کول د دُنیا د ټولو نه ګران کار دے خو څوک چې سر ښکته کړي، په خپل ګریوان کښې وګوري (یعنې خپله جائزه پخپله واخلي)، هغه همیشه کامیاب وي، په **حدیثِ پاک** کښې دي: الله پاک چې د چا سره د خیر معامله وفرمائي، هغۀ د هغۀ خپل عیبونه ورته ښکاره کړي- (1)

---

1 ...شُعَبُ الْاِیْمَان، الباب الحادی والسبعون فی الزہد وقصر الامل، جلد:7، صفحه:347، حدیث:10535۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دې دُنيا ته هر يو کس يواځې راغلے دے او ټولو ته هم خپل قبر ته کوزيدل دي، آه! هُغه ورځ راتلونکې ده، کله چې به اسمان راغونډ کړے شي، دا زمکه به د بلې سره بدله کړے شي، غرونه به ذرې ذرې شي او د مالوچو د ذرو په شان به په هوا کښې الوځي، آه! دا فاني دُنيا به خپل عبرتناک انجام ته ورسيږي- ټول اِنسانان به بيا راژوندي کړے شي-

اللهُ! اللهُ! دا د حِساب ورځ ده ◈ څوک پيدل ◈ څوک په سورلۍ او ◈ څوک به پړمخې راښکلے کيږي او د حشر د ميدان طرف ته به راوستلے کيږي ◈ د اوسپنې سرۀ شوې زمکه ◈ وور ورَوونکے نمر ◈ ګرمي به دماغ خوټکوي ◈ څوک به هم په خپله خوله کښې غوپې وهي ◈ ژبې به د تندې نه وچې شي او ازغي به ترې جوړ شي ◈ زړۀ به خوټکيږي او خُلې له به راځي، هر يو به په خپل خپل تکليف کښې اخته وي- آه! آه! د هُغه ورځې وحشتونه--- اَلْاَمَانُ وَالْحَفِيْظُ! څوک به د چا پوښتنه نۀ کوي ◈ ځوي به د پلار نه ◈ پلار به د ځوي نه تښتي ◈ مور به خپل يک يو ځوي پريږدي ◈ ورور به د ورور نه لرې شي، مُجرم به هُغه وخت خواهش کوي چې کاش! نن د عذاب نه د بچ کيدو په بدل کښې خپل ځوي، خپله ښځه، خپل ورور، خپله قبيله د دې پورې چې په زمکه کښې چې څۀ دي هر څۀ ورکړي او نجات حاصل کړي خو غرږ به وشي: كَلَّا هيڅکله هم نۀ، نن د عدل ورځ ده-

اَللّٰهُ اَكْبَر! په دغه ورځ به د پټيدو هيڅ يو ځائے نۀ وي، څوک به هم د الله پاک نه پټيدے نشي ◈ زمونږ لاسونه ◈ غوږونه ◈ ژبې ◈ ښپې ◈ زمونږ څرمني به زمونږ خلاف

ګواهي ورکوي، آه! زمونږ اعمال نامه به مونږ له په لاسونو کښې راکړے شي، زمونږ د وړوکي نه وړوکے عمل به په هغې کښې درج وي، مجرم چې د خپلو اعمالو لِسټ وويني نو په لړزيدو به شي، په وار خطايۍ کښې به چغې کړي:

يٰوَيْلَتَنَا مَالِ هٰذَا الْكِتٰبِ لَا يُغَادِرُ صَغِيْرَةً وَّلَا كَبِيْرَةً اِلَّاۤ اَحْصٰىهَا ۚ

(پاره:15، سورة الكهف:49)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: هئ زمونږه خرابي! دې اعمال نامې لره څۀ شوي دي چې دې هره وړه او لويه ګناه راګيره کړې ده-

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! ولړزيږئ! د ويرې نه وړچيږئ--!! آه! په هغه نَفسَا نَفسِي کښې خُدائے دې نۀ کړي که چرې غږ اوکړے شي: ◈ اے فلانکيه! وګوره! دا هغه کس دے کوم چې ستا په ترغيب باندې نـمونځ ګزاره جوړ شوے وو،دۀ نـمونځونه اوکړل، نن دے جَنَّتي دے ◈ اے فلانکيه! وګوره! دا هغه کس دے کوم چې ستا په درس اوريدو باندې خپله اِصلاح اوکړه، نن دے جَنَّتي دے؟ ◈ اے فلانکيه! وګوره! دا هغه کس دے د چاپۀ کردار باندې به چې تا ګوتې پورته کولې ◈ اے فلانکيه! وګوره! دا هغه کس دے په کوم باندې به چې تا تنقيد کولو ◈ اے فلانکيه! وګوره! دا هغه کس دے د کوم سره چې به تا حسد کولو ◈ اے فلانکيه! دا هغه کس دے د کوم چې به تا غيبت کولو ◈ اے فلانکيه! دا هغه کس دے په کوم پورې چې به تا خندا کوله، وګوره! دې ټولو خپله اِصلاح اوکړه، نن دوئي جَنَّتيان شول، اوس تۀ ووايه چې ستا عمل څۀ دے؟ تا خپله څومره اِصلاح کړې؟

یہ گھڑی محشر کی ہے، تُو عرصۂ محشر میں ہے
پیش کر غافِل عمل کوئی اگر دَفتر میں ہے

نقصان! نقصان! او سخت نقصان! افسوس! افسوس! ډیر افسوس! که چرې مونږ خپله اِصلاح نۀ وي کړې ◈ خُدائے دې نۀ کړي که چرې نـمونځونه پوره نۀ شول ◈ روژې پوره نۀ شوې ◈ که چرې د مور او پلار پۀ ادب کولو د جَنَّت حقدار جوړ نۀ شو ◈ ګاؤنډیانو ته پۀ تکلیف رسولو ◈ خلقو ته پۀ کنځلو کولو ◈ پۀ غیبتونو کولو ◈ پۀ چغلۍ کولو ◈ پۀ بد ګمانو کولو ◈ د دروغو پۀ الزامونو لګولو مو د نورو عزت ته نقصان رسولے وي ◈ پۀ ظاهره ښه جوړ شوي یو او خلقو راته نیکان وئیلي وي خو پۀ تنهايۍ کښې مو ګناهونه کړي وي نو هُغه وخت به زمونږ څۀ کیږي، آه! که د قیامت پۀ ورځ باندې راګیر کړے شو نو مونږ کمزوري به چرته ځو؟ هئ! خومره د شرم سره به مخ کیږو- آه! د دوزخ خطرناک عذاب به مونږ څنګه برداشت کوو؟

اے د جَنَّت طلب ګارو! لا اوس هم زمونږ سره وخت شته ، راځئ چې مونږ د تیک کیدو کوشش اوکړو، راځئ چې د خپلې اِصلاح کوشش اوکړو- راځئ چې پۀ شریکه د الله پاک نۀ سوال اوکړو:

ہر گُنہ سے بچا مجھ کو مولیٰ
نیک خصلت بنا مجھ کو مولیٰ

تجھ کو رمضان کا واسطہ ہے
یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے

ہُوں بَظاہِر بڑا نیک صُورت
کر بھی دے مجھ کو اَب نیک سیرت

ظاہِر اچھا ہے باطِن بُرا ہے
عَیب دُنیا میں تُو نے چُھپائے
آہ! نامہ مِرا کُھل رہا ہے
یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے
حَشر میں بھی نہ اب آنچ آئے
یاخُدا! تجھ سے میری دُعا ہے[1]

## جَنَّت پکار دے که دوزخ؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د دې وخت ډیره لویه مسئله ده چې نن سبا مونږ پۀ نورو د تنقید کولو نه نۀ وزګاریږو خو زمونږه د دِین بزرګانو، د اللہ پاک نیکانو بندګانو به پۀ نورو باندې تنقید کم او خپلې اِصلاح ته پام زیات کولو- حضرت اِبراهیم تیمي رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه د اللہ پاک نیک بنده وو، یوه ورځ هغوئي خیال کولو چې ګویا هغوئي پۀ دوزخ کښې دي، د وور پۀ زنځیرونو تړلے شوے دے، زقوم (یعني زهریلا ازغنه ونه) خوري، د دوزخیانو وینې زغوې څښي، د دې خیالونو نه پس هغوئي د خپل ځان نه پوښتنه اوکړه: وایه! ستا څۀ پکار دي (د دوزخ داسې وحشت ناک عذاب یا د دې نه نجات)؟ د دننه نه اواز راغلو: نجات پکار دے- د دې نه پس هغوئي دا خیال اوکړو چې لکه هغوئي پۀ جَنَّت کښې دي، د هغه ځائے میوې خوري، د جَنَّتي نهرونو شربتونه څښي، د دې خیال کولو نه پس هغوئي د خپل ځان نه پوښتنه اوکړه: اے نفسه! ستا د کوم څیز خواهش دے (د جَنَّت که د دوزخ)؟ نفس ووئیل: زما د جَنَّت خواهش دے- بیا هغوئي د خپل ځان پۀ پوهه کولو سره وفرمائیل: اے نفسه! في الحال تا ته مهلت میلاؤ شوے، (لا اوس تۀ ژوندے یې، اوس تا ته هم پخپله

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:137135 ملتقطًا-

لا ر اِختيارول دي، تۀ هم نن دا فيصله وکړه که سميرې او جَنَّت ته تلل غواړې اوکه خرابيرې او دوزخ ته غورځيدل غواړې- لهذا پۀ هغه حساب سره عمل اوکړه)- (1)

کچھ نیکیاں کما لے جلد آخرت بنا لے
کوئی نہیں بھروسہ اے بھائی! زندگی کا

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ! څومره ښکلے انداز دے--!! حضرت اِبراهيم تَيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ تنهايۍ کښې ناستے دے او خپل ځان له د نيکۍ دعوت ورکوي، غور اوکړئ چې آيا زمونږ پۀ ژوند کښې هم داسې ساعت راغلے دے---؟ هسې مونږ عقلمند خو ډير يو، نورو له ښه ډير د نيکۍ دعوت ورکوو ◈ که څوې غلطي اوکړي نو ډير پۀ ښه طريقه يـې پوهه کوو ◈ د چا دوست نه که څۀ خطا وشي نو څو څو ګينټې ورسره تيروو او پوهه کوو يـې ◈ که نوکر غلطي اوکړي نو بيا خو د هغۀ شامت راشي ◈ مونږ د ټولې دُنيا پۀ مسئلو باندې هم تبصرې کوو ◈ پۀ فلانکي ملک کښې داسې وشول، فلانکي حُکمران له داسې نۀ بلکې داسې کول پکار وو ◈ نن مسلمان ترقي هم پۀ دې وجه نشي کولے، نن پۀ معاشره کښې فلانکي فلانکي عيبونه دي، داسې چې تبصرې کول وي، تجزيې کول وي، مونږ يـې د څو څو ګينټو پورې کوو خو د سوچ خبره ده؟ آيا چرته پۀ ژوند کښې داسې ساعت راغلے دے چې مونږ يواځې ناست يو، مونږ خپل ګريوان نيولے وي او د ځان نه پوښتنه کوو چې اے عقلمند جوړيدونکيه!

---

[1]... حلية الاولياء، يزيد بن شريك التيمى، جلد:4، صفحه:235، رقم:5361 خلاصةً۔

ووايه تا څۀ څۀ اعمال کړي دي؟ ووايه چې پۀ تا کښې څۀ څۀ ښه خاصيتونه دي؟ پۀ کومو کومو ګناهونو کښې تۀ اخته يې؟ د حضرت بابا بلهے شاه رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ښکلے کلام دے، ليکلي يې دي:

| | |
|---|---|
| پَڑھ پَڑھ عَالِمُ فَاضِلُ هَوۡيَا | کَدِی آپۡنے آپ نُوں پَڑھیا ھِی نَئِیں |
| بُلھے شاہ! اَسۡمَانِی اُڈۡدِیَاں پَھڑ دَا اَیں | جِھۡڑَا گھر بَیۡٹَھا، اَوۡنُوں پَھڑیا ھِی نَئِیں |

مفهوم: يعنې ډير کتابونه دې ولوستل، پۀ لوستلو لوستلو باندې عالِم شوې، چرته دې خپلو حالاتو ته کتلي دي او د هغې کره کتنه دې کړې ده، پۀ اسمان کښې الوتونکې مرغۍ خو رانيسې، مثلاً پۀ ټول جهان باندې تبصرې خو کوې خو کوم چې پۀ کور کښې ناست غل دے يعنې نفسِ اَماره [يعنې پۀ ګناهونو باندې راپارونکے نفس]، آيا چرته دې هغه نيولے دے او حساب دې ورسره کړے دے۔

## نا اشنا حِساب

حضرت اِبنِ صِمَّه رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د الله پاک نيک بنده دے، هغوئي يو ځل پۀ خپله محسابه کولو (يعنې د خپلو اعمالو پۀ جاج اخستو) خپل عمر وشميرلو نو هغه (تقريباً) 60 کاله جوړ شو۔ دې 60 کالو ته پۀ 12 کښې پۀ ضرب ورکولو 720 مياشتې جوړې شوې۔ 720 له يې پۀ 30 کښې ضرب ورکړو نو د دې نه 21 زره 600 جواب راغلو۔ کومې چې د حضرت اِبنِ صِمَّه رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ د عمر مبارک ورځې وې۔ بيا خپل ځان ته مخاطِب شو او وه يې فرمائيل: که زما نه روزانه يوه ګناه هم شوې وي نو د اوسه پورې مې 21 زره 600 ګناهونه کړي دي! پۀ دې موده کښې به داسې ورځې هم شاملې وې پۀ کومو کښې چې به ما هره ورځ د زرو

[1000] پورې ګناهونه هم کړي وي- دا يـې چې ووئيل نو د الله پاک د ويرې نه پۀ لړزيدو شو! بيا يو دم د هغوئي د خُلې مبارکې نه يوه چغه وختله او هغوئي زمکې له تشريف راوړو- چې وکتلے شو نو د هغوئي رُوح پرواز کړے وو- (1)

## نۀ د پښيمانتيا اِحساس شته او نۀ د اخرت ويره

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** غور اوکړئ چې د الله پاک د نيکانو بندګانو انداز څومره اعلیٰ وو، دوئي به څنګه خپله جائزه اخستله- هر وخت پۀ نيکو کښې د مصروفه کيدو باوجود به يـې خپل ځان ګنهګار ګڼلو او هميشه به د الله پاک نه ويريدل د دې پورې چې د الله پاک د ويرې د غلبې پۀ وجه به د ځينو رُوحونو پرواز هم کولو- خو افسوس چې زمونږ حالت دا دے چې نۀ راسره د پښيمانتيا اِحساس شته او نۀ د اخرت ويره---!! نيکانو بندګانو به د شپې عبادتونه کول، ډيرې روژې به يـې نيولې، ډير نيک کارونه به يـې کول خو بيا به يـې هم ځان ډير کم تر ګڼلو او د الله پاک د ويرې نه به يـې ژړل-

## د ماشومتوب خطا رايادہ شوه!

يو ځل حضرت عُتبَه غُلام رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د يو کور پۀ خوا تيريدلو نو پۀ رېچيدو شو او خوله پرې راغله! د خلقو پۀ پوښتنه کولو يـې وفرمائيل: دا هغه ځائے دے چرته چې ما پۀ ماشومتوب کښې ګناه کړې وه-

---

[1] ...کيمياے سعادت، اصل ششم در محاسبه، مقامِ سوم محاسبت است پس از عمل، صفحه:367۔

## د ماشومتوب د ګناه د يادې ساتلو نا اشنا انداز

منقول دي چې د حضرت حسن بصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَيْه نه په ماشومتوب کښې يوه ګناه شوې وه-هغوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَيْه چې به کله هم نوې جامې ګنډلې نو د هغې په ګريوان باندې به يې هغه ګناه ليکله او اکثر به يې هغې ته کتل او دومره به يې ژړل چې هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَيْه به بے هوشه کيدلو- [(1)]

## د خپلې جائزې يوه بهترينه طريقه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! وګورئ چې د الله پاک نيکانو بندګانو به په کوم کوم انداز کښې خپله جائزه اخستله او هر وخت به د ځان ټيک کولو، د ځان په سمولو او په خپله اِصلاح کولو کښې مصروف اوسيدل- الله پاک دې مونږ ته هم توفيق راعطا کړي، مونږ له هم پکار دي چې خپلې اِصلاح ته پوره پام لرنه اوکړو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! اميرِ اهلِسُنَّت، باني دعوتِ اِسلامي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه خپلو مريدانو، طالبانو او محبت کوونکو بلکې د ټولې دُنيا عاشقانِ رسول ته د خپلې اِصلاح د پاره بهترينه نُسخه عطا کړې ده او هغه ده: رساله نيک اعمال- دا مختصره شان رساله د مکتبة المدينه نه وغواړئ، تاسو کولے شئ چې دا رساله د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټس نه ډاؤن لوډ کړئ بلکې که نوره اساني غواړئ نو په خپل موبائل کښې ***Naik Amaal*** نومې ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ، دا ولولئ، د دې مطابق ژوند تيروئ او روزانه د خپلو اعمالو جائزه اخلئ- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د ګناهونو نه د بچ

---

[1]... تذکرة الاولیاء، ذکر حسن البصری رَحمةُ اللهِ عَلَيْه، جز:1، صفحه:29-

کيدو او د نيکو کولو ذِهن به مو جوړيږي، زړۀ ته به مو پاک والے ميلاؤيږي او کردار به مو صفا سوتره، روښانه او ښکلے کيږي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## تهوله کورنۍ په سمه لار شوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے، ما د ګناهونو نه ډک ژوند تيرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، نـمونځونه قضا کول وغيره زما په معمولاتو کښې شامل وو، يو ځل زمونږه علاقې ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې يو اسلامي ورور ماته د ماښام د نـمونځ کولو او بيان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زۀ د هغوئي سره جومات ته لاړم، د ماښام د نـمانځه نه پس بيان ما له ډيره مزه راکړه، د بيان پۀ اخره کښې مبلغ د نيک اعمال رسالې تعارف اوکړه، پۀ رساله نيک اعمال کښې د درج د نيکو نه ډک ژوند تيرولو مدني ګل ليدو سره ماته ډيره خوشحالي ميلاؤ شوه، د دې رسالې پۀ شکل کښې د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اُمَّت د اصلاح د پاره د محنت ليدو سره ما لاس پۀ لاس د بيعت کولو د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولیِ کامل سره نسبت څۀ جوړ شو چې د ګناهونو نه بيزاره شوم او د نيکو طرفته مائل شوم، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول مې د زړۀ نه خپل کړو، د دې په برکت سره ډير ښه اثر اوشو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! پۀ ورو ورو تهوله کورنیِ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، پۀ کور کښې د نـمونځو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامې او سندرې سازونه بند شول او د ګناهونو نه د ډک چينل پۀ ځائے مدني

چینل ولګیدو-

نیک اعمال کی بھی مرحبا کیا بات ہے
قُربِ حق کے طالبوں کے واسطے سوغات ہے

## پیر جوړول مهٔ هیروئ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! که مونږ چرته خپله اِصلاح کول غواړو نو د يو کامِل پير مُريد جوړيدل هيڅکله هم مهٔ هيروئ! د پير نه بغير د شيطان او د نفسِ اماره [يعني پهٔ ګناه باندې د راپاروونکي نفس] د مکر نه بچ کيدل تقريباً چې نا ممکن دي- سُلطان العارفين، شيخ سلطان باهو رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہِ فرمائي:

جاگ بِنَا دُدھ جَمْدَے نَاهیں بَاھُو | بھانوَیں لَال ھُوںڑ کَڑھ کَڑھ کے ھُو[1]

وضاحت: تومله: يعني د ماستو جوړولو د پاره پهٔ پئيو کښې شوملې [لَسي] يا ماسته اچول، مطلب دا دے چې پی پخوی، پخوی، چې پهٔ پخيدو پخيدو باندې سرهٔ شي بيا هم د دغه پئيو نه ماسته نشي جوړيدے، د ماستو جوړولو د پاره تومله اچول وي، داسې چې اِنسان کوشش کوي، کوشش کوي، بيا هم د نفس او د شيطان د مکر نه بچ کيدل او پهٔ خپله اِصلاح کولو کښې کامیابیدل ګران دي، د څو پورې چې خپل لاس د کامِل پهٔ لاس کښې ورنکړے شي-

---

[1] ...کلامِ حضرت باہو، صفحہ:27۔

پهٔ **حديثِ پاک** کښې دي: اَلرَّفِيْقُ قَبْلَ الطَّرِيْق يعنې ورومبے د سفر ملګرے ولټوه بيا سفر کوه! [1] شيخ سلطان باهُو رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه د پير ضرورت او د هغهٔ صفتونه بيانوي او فرمائي: ◈ **مُرشِد د پارس کاڼي پهٔ شان دے** (پارس کاڼے يو خاص کاڼے دے، وئيلے کيږي چې کوم يو کاڼے د دې کاڼي سره ولګي نو د هغې نه سرهٔ زر جوړ شي، پير هم د دغه کاڼي پهٔ شان وي چې معمولي حيثيت نهٔ لرونکي اِنسان ته پهٔ خپل کمالي نظر اوچته مرتبه ورکوي او هغه قيمتي جوړوي)، سلطان باهُو رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه نور فرمائي: ◈ د پير نظر د نمر پهٔ شان وي کوم چې بد عادتونه پهٔ ښه عادتونو کښې بدلوي ◈ مُرشِد د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ اخلاقو سره مُتَّصِف وي ◈ د مور او پلار نه زيات مهربانه وي ◈ د الله پاک لاره ښودونکے ◈ د دُنيا د مال او دولت نه بے نيازه ◈ د لالچ نه پاک او ◈ حق لټونکے د زړهٔ او ځان نه خوښ لرونکے وي- بس مُرشِد هغه دے چې يُحۡيِ الۡقَلۡبَ وَيُمِيۡتُ النَّفۡسَ کوم چې نفسِ اَمَّاره [يعنې پهٔ ګناهونو باندې راپارونکے نفس] وژني او زړهٔ ژوندے کوي- [2]

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** اميرِ اهلِسُنَّت، بانيِ دعوتِ اِسلامي، حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د دې وخت عظيم علمي او روحاني شخصيت دے، اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! اميرِ اهلِسُنَّت کامِل پير دے، اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د هغوئي جولۍ ته پهٔ راتللو سره د لکونو خلقو پهٔ ژوند کښې اِنقلاب راغلے دے، د کروړونو زړونو اِصلاح شوې ده، د ګناهونو پهٔ ډنډه کښې انښتي پهٔ لکونو خلق نن اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د نيکو نه پهٔ ډک

---

[1]... معجم کبير، سعيد بن ابي رافع، جلد:3 صفحه:143، حديث:4257۔

[2]... عين الفقر، صفحه:938079 خلاصةً۔

ژوند تیرولو کښې کامیاب شوي دي، مشوره ده چې تاسو هم د کامِل ولي، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه مُریدان شئ او د ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح په کوشش کښې مصروف شئ، که چرې تاسو د مخکښې نه د کوم پیر صاحب مُریدان یی نو د برکت د پاره بیعت حاصل کړئ- که د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه بیعت کول غواړئ نو ډیره اسانه طریقه ده، د هر خالي په ورځ د ماسخوتن د نـمونځ نه پس په مَدَني چینل باندې نیغ په نیغه (Live) د مَدَني مذاکرې سلسله وي، تقریباً په هره مَدَني مذاکره کښې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه بیعت هم کوي، تاسو په مَدَني مذاکره کښې شرکت اوکړئ او کله چې بیعت کولے شي نو بیعت اوکړئ، د دې نه علاوه د شعبهٔ روحاني علاج د ذمه دارانو یا د روحاني علاج په بستو باندې خپل نوم، د رابطې نمبر او د کور مکمل پته ولیکئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! په یو څو ورځو کښې به تاسو ته بیعت نامه میلاؤ شي-

## یو اهم وضاحت

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د بیان خلاصه دا ده چې ځان هیرول او د نورو په اِصلاح کښې مصروفه کیدل، نور پوهه کول خو د خپل ځان فِکر نهٔ کول ډیره بیوقوفي او بے عقلي ده- مونږ له پکار دي چې د خپلې اِصلاح فِکر هم ضرور اوکړو-

دلته یو اهم وضاحت دا هم کووم چې د ځینو خلقو خیال وي چې وړومبے مونږ د ځان پوره اِصلاح اوکړو نو بیا به نورو له د نیکۍ دعوت ورکوو، دا هم غلط سوچ دے، مونږ ته د خپل ځان اِصلاح هم کول دي او نورو له د نیکۍ دعوت ورکول هم دي- الله پاک په قرآنِ مجید کښې د نجات د پاره دا دوه څیزونه لازمي ګرځولي دي، په 30 سیپاره، سُوْرَةُ الْعَصر کښې

اِرشاد دے چې ټول اِنسانان په نقصان کښې دي، آؤ! په کومو کښې چې 2 صفتونه وي، هغوئي په نقصان کښې نۀ دي، وړومبے صفت:

| | |
|---|---|
| اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ (پاره:30، سورة العصر:3) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: خو هُغه خلق چې ايمان يې راوړو او ښه کارونه يې اوکړل- |

دويم صفت:

| | |
|---|---|
| وَ تَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ۬ وَ تَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۠ (پاره:30، سورة العصر:3) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او يو بل ته يې د حق تاکيد اوکړو او يو بل ته يې د صبر وصيت اوکړو- |

د اِمام حَسَن بصري رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه په خِدمت کښې پوښتنه وشوه: آيا روحاني طبيب د نورو علاج کولے شي؟ وه يې فرمائيل: آؤ! کولے شي، خو وړومبے دې خپل علاج اوکړي، بيا دې د نورو کوي چې خوک ځپله بے لارې وي نو نورو ته به لار څۀ وښائي- [1] د هغوئي نه دويمه پوښتنه اوکړے شوه: خلق وائي چې خلقو ته نصيحت هُغه وخت کول پکار دي کله چې اِنسان ځپله د ټولو بدو نه پاک وي؟ وه يې فرمائيل: شيطان خو هم دا غواړي چې د نيکۍ د دعوت ورکولو او د ګناه نه د منع کولو دروازه بنده شي [2] يعنې هر ګس که چرې صرف هم په خپله اِصلاح کښې اخته شي او ځان په پوره توګه د ټيک کولو نه

1...تذکرة الاولیاء، ذکر حسن البصری رَحمةُ اللهِ عَلَيْه، جز:1، صفحه:18-

2...تذکرة الاولیاء، ذکر حسن البصری رَحمةُ اللهِ عَلَيْه، جز:1، صفحه:18-

مخکښې د نيکۍ دعوت بالکل ورنکړي نو په داسې حالت کښې به د نيکۍ د دعوت کار بند شي او هم دا د شيطان خواهش دے۔

مجھے دے خود کو بھی اور ساری دنیا والوں کو
سُدھارنے کی تڑپ اور حوصلہ یاربّ![1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان په اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** په شريکه په يو ځائے کښې د ټولو په تيز اواز سره تِلاوت کول جائز نۀ بلکې ګناه ده۔

**وضاحت:** عام طور دلته داسې کيږي چې په کورونو دکانونو وغيره کښې د برکت د پاره د قرآنِ پاک ختم کولے شي، دا ډيره ښه خبره ده، د قرآنِ پاک ختم ضرور کول پکار دي، څوک يې چې نۀ کوي، هغوئي له هم ذِهن جوړول پکار دي، البته! عام طور د قرآنِ پاک د ختم انداز دا وي چې ټول په يو ځائے کښې نزدې نزدې کښيني او په تيز تيز اواز تلاوت کوي، داسې د ټولو اواز په يو ځائے راځي، په دې کښې اوريدونکے څوک هم نۀ وي۔ داسې په يو ځائے په کيناستو په تيز اواز سره د قرآنِ پاک ختم کول جائز نۀ دي بلکې ګناه

---

[1]... وسائِلِ بخشش، صفحه: 76۔

ده- د دې صحيح طريقه دا ده چې ټول په ورو ورو يعنې په دومره اواز کښې تلاوت کوي چې خپل غوږونه يـې اوريدے شي- يا دا وي چې ټول دومره لرې لرې کښيني چې د يو په اواز باندې د بل پام بدل نشي يا دې بيا داسې اوکړے شي چې يو دې په تيز اواز تلاوت کوي او باقي نور دې يـې اوري- (1)

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او په هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

## یَا عَفُوُّ

د چا ګناهونه چې ډير وي هغه دې یَا عَفُوُّ ډير لولي الله پاک به په خپل فضل سره د هغهٔ ټول ګناهونه وبخښي- (2)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-.

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]… فتاویٰ اہلسنت، غیر مطبوعہ، ریفرینس نمبر: Lar:6160۔

[2]… مدنی پنج سورہ، صفحہ: 257۔